# الله تبارک و تعالی به جنتیانو ته ووايي: اې جنتيانو؟ هغوی به ووايي: مونږ دې پرله پسې امر پر ځای کولو ته تيار يو زمونږ ربه! او پرلپسې پرې خوښ يو، نو وبه وايي: آيا راضي یاست؟ هغوی به ووايي: مونږ به ولې نه راضي کيږو پداسې حال کې چې موږ ته دې دومره څه راکړي چې خپلو هېڅ مخلوقاتو ته دې نه دي ورکړي؟

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «الله تبارک و تعالی به جنتیانو ته ووايي: اې جنتيانو؟ هغوی به ووايي: مونږ دې پرله پسې امر پر ځای کولو ته تيار يو زمونږ ربه! او پرلپسې پرې خوښ يو، نو وبه وايي: آيا راضي یاست؟ هغوی به ووايي: مونږ به ولې نه راضي کيږو پداسې حال کې چې موږ ته دې دومره څه راکړي چې خپلو هېڅ مخلوقاتو ته دې نه دي ورکړي؟ نو وبه وايي: زه به تاسو ته له دې نه هم زيات غوره څه درکړم؟ هغوی به ووايي: اې ربه! لدې به نور کوم څه زيات غوره وي؟ هغه به وفرمايي: زه به تل له تاسو څخه د تل لپاره راضي یم او هېڅکله به درڅخه ناراضه نه شم».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی چې الله تعالی به جنتیانو ته په جنت کې وايي چې: اې جنتيانو، نو هغوی به ورته په ځواب کې ووايي: لبيك ربَّنا وسعديك، يعنې اې ربه! ستا امر منلو ته پرلپسې چمتو یم او په منلو يې خوښ یم. نو هغوی به ورته ووايي: آيا راضي ياست؟ نو هغوی به ووايي: هو راضي يو؛ او ولې به نه راضي کېږو پداسې حال کې چې موږ ته دې دومره څه راکړي چې له خپلو مخلوقاتو څخه دې هېچا ته ندي ورکړي! نو الله پاک به ووايي: آيا لدې څخه غوره څه درنکړم؟ هغوی وويل: اې ربه، له دې څخه به څه غوره وي؟! نو وبه وايي: زه به تل له تاسو خوشحاله یم؛ او هېڅکله به له دې وروسته پر تاسې غصه نه شم.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8343